## د افغانستان اسلامي جمهوریت

د مالیی وزارت
د فواید عامې وزارت
او
د کلیو د پراختیا او بیا رغوني وزارت

### دکلیوالي لار جوړونې ملي پروګرام (NRAP)

# د ټولنیزاو چاپیریال د منجمنت او جوړښت (ESMF) اجرائیوي لنډ یز
# د کلیوالي لار جوړونې ملي بیړنی پروژه (NERAP)

وری ۱۳۸۷

# د لوی خدای په نامه

د افغانستان د کليوالي لار جوړوني ملي پروګرام د خپلي مېل شوي کړنلارې سره سم او همداراز د افغانستان د اسلامي دولت په لمړيتوبونو کې د يو پراخ پروګرام په توګه د کليوالي سړکونو د ديزاين، جوړوني او بيا رغوني ته متعهد دی.

همدا ډول دا پروګرام هڅه کوي ترڅو د ليری پرتو سيمو خلکو ته په هر ډول اقليمي شرايطو او د ټول کال په اوږدو کې و لمړنيو آسانتياوو ته د لاس رسی برابرولو له لارې بشري امنيت ښه کړي او عادلانه اقتصادي ودې ته چټکتيا ورکړي.

دا هڅې د بين المللي ټولني او بسپنه ور کوونکو ادارو په مالي مرستو سره شوني شوې. زه د دې فرصت څخه په ګټه اخيستلو د ليری پرتو سيمو خلکو له خوا د ټولو بسپنه ورکوونکو څخه د دې بې ساري مرستو څخه مننه کوم.

دا پروګرام د خپل پيل يعني د ۲۰۰۳ م کال نه را پدې خوا د ۹۵۰۰ کيلومترو په شاوخوا کې کليوالي سړکونه ديزاين، جوړ او بيارغولي دي. په دې پروګرام کې اساسي موخه د بيوزله کليوال وګړی او يا د خشخاشو د کرلو په سيمو کې د غريبو بزګرانو لپاره د کليوالي لار جوړوني له لارې د کار د برابرولو آسانتيا وي.

هغه څه چې په دې موده کې ډير لږ ورته پام شوی هغه د کليوالي سړکونو د جوړوني له کبله د ټولنيز او چاپيريال د اغيزو موضوع ده. زه هيله لرم چې دا رساله به د دې وړ وي چې د هغو کسانو لپاره چې په دې پروګرام کې په چارو بوخت دي او همدا راز د هغو ادارو لپاره چې د دې پروګرام سره اړيکې لري، ګټور لارښود وګرځي.

په درنښت

انجنير خير محمد غازي
د کليوالي لارجوړوني د ملي پروګرام انسجام ورکوونکی

## I. د (NERAP) د وړانديز شوې پروژې تير حال

**1.** د افغانستان دولت، د کليوالي سړکونو ښه والي ته د خپلو دندو په لمړيتوبونو کې ځای ورکړی او د ۲۰۰۲ م کال را په دې خوا د کليوالي سړکونو د زيربناوو بيارغونه پرمخ بيايي. په لمړيو وختونو کې دا پروګرام د ملي بيړنۍ کارمندنې پروګرام (NEEP) په نامه مشهور وو. دا هڅه د دولت د ټولنيزاو چاپيريال ساتنې د آجندا يوه برخه ده او داسې پلان شوې چې د کليوالي سړکونو د جوړونې په محال د کار او مصروفيت د پيدا کيدو سبب هم شي. په ۲۰۰۵ م کال کې د يوې بهرنۍ څيړنې په ترڅ کې داسې توصيه وشوه چې د امکان په صورت کې د کار د پيدا کيدولو تر څنګ د ښه کيفيت لرونکيو کليوالي سړکونو په جوړولو باندې تاکيد وشي. د افغانستان دولت دا نظر ومنلو او اوس د پروګرام د کليوالي لار جوړونې د ملي پروګرام(NRAP) په نامه مشهور دی، چې د IDA اود نړيوال بانک تر رهبری لاندې د ګڼ شمير نورو مرستندويانو لخوا د مالي پلوه حمايه کيږي.

2. د (NRAP) پروګرام پلی کول د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونود ادارې په مرسته او د کليو د پراختيا او بيارغونې وزارت او فوايد عامې د وزرات لخوا په ګډه سره پرمخ بيول کيږي .چې د ۲۰۰۲ م کال د نيمايي څخه را په دې خوا دوام لري. دا پروګرام د پيل څخه تر ۲۰۰۴ م کال پورې د ملي بيړنۍ کارمندنې پروګرام (NEEP) په نامه مشهور وو. په ۲۰۰۵ م کال کې د کار د پيدا کولو د لمړني پروګرام څخه ډير پام د کليوالي سړکونو د ښه والي له لارې دسيمې د ثبات لرونکي پرمختګ په لور پراخ شو. نو له دې کبله په ۲۰۰۵ م کال کې د نوموړي پروګرام نوم د کليوالي لار جوړونې ملي پروګرام په نامه بدل شو.

3. د پيل څخه چې دا پروګرام په کال ۲۰۰۲ م کې د ټولنې په خپلو پښو دريدنې بيړنې پروژې تر عنوان لاندې په کار پيل وکړ، د کليوالي لار جوړونې ملي پروګرام د ۹۰۰۰ کيلومترو په شاوخوا کې کليوالي سړکونه د هيواد په لر او بر کې په عالي معيار سره بيارغولي دي چې د کال په ټولو موسمونو او هر راز هوا کې د ګټې اخستنې وړ دي او بل دا چې دغو سړکونو ۳۰۰۰ کلي سره نښلولي دي. د کليوالي سړکونو د شبکې اوږدوالی د ۳۰۰۰۰ کيلومترو په شاوخوا کې دی. چې د نوموړې شبکې سرته رسيدلی کار ترډم ګړی ۲۵٪ سړکونه د ساتنې او څارنې وړ حالت ته راوستلي دي. همدا شان دې پروګرام د ۱۳ ميليونو په شاوخوا کې کارې ورځې منځ ته راوستلي دي. دا پروګرام د هيواد په ټولو ولايتونو کې کار کوي او خپل عمليات يې داسې تنظيم کړي چې د امنيتي وضعه سره سمون ولري. د راتلونکو درې کلونو په ترڅ کې به نور ۴۰۰۰ کيلومټره کليوالي سړکونه بياورغول شي اود شبکې د ساتنې او څارنې وړ سړکونو کې به شامل شي، تر څو د پريکړې موخې ته ورسيږو او په دې توګه به هر کال ۱۳۵۰ کيلومټره سړکونه بيا ورغول شي.

4. د افغانستان د دولت د غوښتې پر بنسټ، د نړيوال بانک- IDA او د افغانستان د دولت په ګډه سره يوه ۱۱۲ ميليونه ډالرو پروژه برابره کړي. د وړانديز شوې کليوالي لار جوړونې ملي بيړنۍ پروژې(NERAP) موخه د هيواد په هغو کليوالي سيمو کې چې د نوموړې پروژې تر پوښښ لاندې را ځي ، چې د کال په اوږدو کې د لومړنيو اړتياو ته د اسانتياوو برابرول دي. دا موخه به د خصوصي سکتور او د کليوالي سړکونو د زيربناوو د ساتنې او څارنې د ودې له لارې لاس ته راشي. د PDO لاسته راوړنې به مرسته وکړي ترڅو په هيواد کې د مساوي اقتصادي ودې د ښه کيدو لامل شي. PDO د (NERAP) پروګرام د هر اړخيزې موخې څخه اخستل شوی دی.

5. د کليوالي لار جوړونې ملي بيړنۍ پروژه او د پروګرام د موخې پر بنسټ د افغانستان په کليوالي سيمو کې، د کال په اوږدو کې د دوامداره لاس رسی و لمړنيو خدمتونوته اود آسانتياوود برابرولو له لارې اقتصادي ودې پرمخ بيول او د بشري امنيت د کچې لوړول دي. چې د خصوصي سکتور د ودې له لارې د توليدې ظرفيتونو د پرمخ بيولو په ترڅ کې د کليوالي سړکونو د زيربناوو رامنځ ته کيدولو او د ټولنې دبيوزله وګړو لپاره د کار او مصروفيت د پيدا کيدولو لامل ګرځي. د (NERAP) پروګرام دا ډول چارې او کړنو په ترسره کولو کې هڅه کوي ترڅو د بشري قوې په کارولو سره د مهمو او ضروري کليوالي سړکونواو زيربناوجوړول، بيارغونه ، ساتنه او څارنه ترې وکړي. چې په ترڅ کې به يې په ملي کچه د کليوالي بيوزله وګړو لپاره د لنډ محاله کاري فرصتونو د پيدا کيدو لامل وګرځي.

6. د وړاندیز شوي پروژې توکي دا دي:

**د A جز: د دویمې درجې سړکونو د ښه والي لپاره (د مالیاتو او اټکل شوي لګښتونو په ګډون معادل د ۵۳،۹ میلیونه ډالر)**
په دې برخه کې دې څه نا څه ۶۵۰ کیلومتره دویمي درجې کلیوالي سړکونو جوړونه او بیارغونه، د طبیعي پېښوڅخه وروسته لکه د زیاتې کچې اورښت او واورې وریدل ، د تیرو لویدل، د ځمکې ښویدل، د تیږو، تیز بارانونو او سیلابونو له امله د سړک بندیدل، د پلونو او سړکونو بیړني/لازمي رغول شامل دي او همدا شان د نوي ټولنیز او چاپیریال منجمنت د جوړښت(ESMF) پلي کول اود څارني چارې، د پلی کولو د مشاور خدمتونه او د زیاتیدونکوعملیاتي لګښتونو لپاره مالي مرسته چې د فواید عامې وزارت د پروژې د پلي کولو برخې د فعاله ساتلو لپاره لازمه ده، په کې شامل دي. ،

**د B جز: د دریمې درجې د سړکونو د ښه والي لپاره (د مالیاتو او اټکل شوي لګښتونو په ګډون معادل د ۵۱،۹ میلیونه ډالر)**
په دې برخه کې د څه نا څه ۸۵۰ کیلومتره دریمې درجې کلیوالي سړکونو جوړونه او بیارغونه، د طبیعي پېښوڅخه وروسته لکه د زیاتې کچې اورښت او واورې وریدل ، د تیرو لویدل، د ځمکې ښویدل، د تیږو، تیز بارانونو او سیلابونو له امله د سړک بندیدل، د پلونو او سړکونو بیړني/لازمي رغول شامل دي او د هغه کلیوالي سړکونو چې وارله مخه بیارغول شوي، عادي ساتنه او څارنه شامل دي او همدا شان د نوي ټولنیز او چاپیریال منجمنت د جوړښت(ESMF) د پلی کول اود څارنې چارې، د پلي کولو د مشاور خدمتونه او د زیاتیدونکوعملیاتي لګښتونو لپاره مالي مرسته چې د کلیو د پراختیا او بیارغونې د وزارت د پروژو د پلي کولو برخې د فعاله ساتلو لپاره چې لازمه ده، په کې شامل دي.

**د C جز: د بنیادي تقویه، د ظرفیتونو لوړول او د پروژې د پرمخ بیولو او عملي کولو لپاره (د مالیاتو او اټکل شوي لګښتونو په ګډون معادل د ۶،۲ میلیونه ډالر)**
دا برخه د کلیوالي سړکونو د منجمنټ د سیستم تأ سیسول دي ( چې زیاتره یې د کلیوالي سړکونو د ډیزاین او پلي کولو په استراتیژۍ او د ساتنې او څارنې د کړنلارې پلي کول او تاسیسول دي او همداراز د لنډ او منځ محاله ساتنې او څارنې په پروګرام کې شامل دي.) د منجمنټ د کړنلارې سره سم، په دې برخه کې سربیره د هغو کارکونکو د مسلکي ظرفیتونو د لوړولو چارې کوم چې د کلیوالي سړکونو په اداره او د پروژې په منجمنټ کې مسؤل دي، د څارنې او ارزونې چارې هم شامل دي

## II. موخې

7. دا د ټولنیز او چاپیریال ساتنې جوړښت؛ عمومي پالیسی، لاربښودونو او د کړنلارو شفرونه چې ټول د وړاندیز شوي پروژې(NERAP) په سرته رسیدنه او پلي کولو کې سره را ټول شوې دي، تیاروي. د یادولو وړ ده چې نوموړې وړاندیز شوي پروژه د نړیوال بانک لخواه مالي حمایه شویده. د دې جوړښت موخې به د اوسنی وضع شوي قانون په سمون سره مرسته وکړې ترڅو هغه چارې چې د بیارغونې د عملیاتو تر عنوان لاندې وړاندیز شوې دي د لاندنیو ټکیو د مینځ ته راتلو لامل وګرځي.

- د بشري روغتیا ساتنه
- د هر ډول معیشت د لاسه ورکولو څخه ډډه او یا هم تاوان ورکول
- د فردي فرعي پروژو او یا د دوی د یوځایي اغیزو له امله د چاپیریال خرابوالي او راتیټولو څخه مخ نیوی
- د ګټورچاپیریال رامنځ ته کول او د ټولنېزو پایلو لوړوالی
- د نړیوال بانک د ساتنې سره د یووالي ډاډ ورکول

8. د ټولنيز او چاپيريال منجمنت چوکاټ(ESMF) دلاندې ساتني لاملونه په ګډون دی:

I. د ټولنيز ګډون چوکاټ
II. و چاپيريال ته د زيان د لږوالي اقدامات/ د چاپيريال منجمنت پلان
III. د فرعي پروژو د آزموينې لپاره Negative List، او check list
IV. د NEPA/ تګلاره( کړن لاره).

د دې پروژې لپاره د نړيوال بانک د پلی کولو وړ پاليسی عبارت ده له [چاپيريال ټاکنه(څرنګوالی) (OP4.01)]، جبري ځای په ځای کيدنه[(OP/BP 4.12)] او لرغوني زيرمې[(OP/BP 4.11)].
سربيره پردې يو د ماين پاکی پروګرام څرنګه چې په ESMF کې بيان شوی دی، هم ضروري دی.

**III: لارښوونيز پرنسيپ، د حقوقي او اداري پاليسيو چوکاټ**

9. د هيڅ راز د پام وړ چاپيريال اغيزو وړاندوينه نده شوې. څرنګه چې وړانديز شوی کار يواځې په ګډون د کليوالي سړکونو او د هغوی د زيربناوو ترميم او بيارغول دي. په دې پروژه کې داسې تمه نه کيږي چې د ځمکې جبري ترلاسه کول او يا نورې ناسمې ټولنيزې اغيزې په کې شاملې وي، خو په معکوس ډول دا پروژه به ډيرې ښې او مثبتې ټولنيزې پايلې د معيشتونو په ښه والي باندې ولري. دا پروژه يوه ملي موخه لري او ډير پام يې په زيانمن شويو ولسواليو باندې دی. او د بيلابيلو پرګنو اوتوکمو وګړي به وتوانيږي چې د نوموړې پروژې څخه ګټه ترلاسه کړي. څرنګه چې په دې پروژه کې د اوسنيو( موجوده) سړکونو د ترميم او بيا رغولو چارې په ګوته شوي دي؛ نو له دې کبله په لرغوني او تاريخي محصولاتو به اغيزې ونلري. د پروژې د پلی کول کولو په لارښود کتاب کې به، د پروژې آزموينه، پلان جوړونه او د ارزونې فارمتونه چې ټولنيز اود چاپيريال اغيزې ثبتوي په ځان کې ولري او همدا شان به د ځانګړيو فرعي پروژو لپاره اړونده خوندي کونکي اقدامات په کې شامل وي. د څارنې او تفتيش د کار په ګډون دې ناځابه لارغوني اثارو د موندلو په هکله د اساسي قانون د لارښونو سره سم راپور ورکول وي. د پروژې د پلی کولو لارښود کتاب به د ټولنيز او چاپيريال ساتنې د چوکاټ پر بنسټ وي، چې د نړيوال بانک او د افغانستان د دولت تر منځ پرې موافقه شوې ده.

**10. هغه تګلاره د چې چاپيريال د اغيزو د څرنګوالی په موخه ،د چاپيرال ساتنې د ملي ادارې لخوا خپره شوې ده:**

د NEPA اداره د EIA قانون سره سم، د ټرانسپورټ پروژې د دوی د لاندينو څرنګوالي په پام کې نيولو سره د A او B په ګټګوريو ويشي.

(i) د A چارې: د ۸۰۰۰۰۰ اويا زياتو امريکايي ډالرو په مجموعي ارزښت د ملي او يا ولايتي لويې لارې او يا لويو لارو جوړونه، پرته د اوسنيو سړکونو د څارنې او بيارغونې.

(ii) د B چارې: د ۸۰۰۰۰۰ امريکايي ډالرو څخه لږ په مجموعي ارزښت د ملي او يا ولايتي لويې لارې او يا لويو لارو جوړول او يا ښه کول(په استثنا د اوسنيو سړکونو د څارنې او بيارغونې).

(iii) هغه چارې چې پرحساسو لرغوني سيمو ناوړه اغيزه واچوي:

هغه چارې چې معلوميږي چې د پام وړ ناوړه اغيز پر چاپيريال لري، د NEPA لخوا د حساسو ساحو په ډول پيژندل شوې دي.

(iv) منع شوي چارې: هر راز چارې چې داسې په نظر راشي چې پر چاپيريال ناوړه او يا معکوسه اغيزه لري، او يا دا چې د NEPA لخوا د منع شوی چارې په توگه پيژندل شوې وي.

د پورتنيو ذکر شويو پروژو د کټگوريو لپاره د پروژې اجرا بايد د غوښتني او ضروري قانوني شرايطو د پوره کولو څخه ورسته ، د NEPA موافقه او منل ليک ترلاسه کړي.

**11. و د NERAP پروژې ته د هغې د پلی کول کيدولو وړتيا**

دا ډيره د پام وړ خبره ده چې د NERAP پروگرام زياتره پروژې د کلي، ولسوالی او ولايت د سړکونو بيارغول دي. او د ملي لويو لارو له جوړوني سره تړاو نلري . نو له دې کبله د NEPA د موافقې او منل ليک ترلاسه کولو ته اړتيا نشته، نو له دې کبله ټولې فرعي پروژې د NEPA د موافقي د تائيد ليک د درلودلو څخه معاف دي. که څه هم دلته د نويو ولايتي او ولسواليو د سړکونو د جوړوني امکان هم شته او د حساسو محيطي ساحو سړکونه به په راتلونکي کې د چارواکو لخوا وټاکل شي او د NEPA د اداري دEIA د تګلاروپربنسټ به هغه پروژې د پلي کولو وړ وي.

**12. د ځمکي لاس ته راوړل او بيرته ځای په ځای کيدنه** ، هغه کړني چې د وړانديز شوې پروژې تر عنوان لاندې به ترسره شي د دويمي او دريمي درجې سړکونو بيارغونه په کې ګډون لري. چې ټولنيزې منفي اغيزې او د ځمکې لاس تر راوړل په کې شامل نه وي. هيڅ ډول جبري بياځای په ځای کيدو وړاندوينه نه ده شوې، خو د کمو ځمکو لاسته راوړنه کوم چې د NERAP د فرعي پروژو د چارواو يا کړنو لپاره اړيني وي او دا کاربه د افغانستان د ځمکو د ملکيت د سلبولو د وضعه شوي قانون سره سم پلی کيږي، کوم چې په ۲۰۰۲ م کال کې جاري شوی او دا پړاوونه به ورسته اصلاح شي تر څو په افغانستان کې د ۲۰۰۷ م کال د ځمکو د پاليسو سره سمون ولري. او دا موضوع د منظورۍ لپاره د کابينې او اولسي جرګې ته وړاندې شوې ده او د 4.12 OP/BP برخه د جبري بياځای په ځای کيدني په هکله ده.

**13. د نړيوال بانک ساتنې پاليسی چې کيدای شي په لاره واچول شي.**

د دې پروژې اړوند زياتره ساتني پاليسی عبارت دي له: د چاپيريال څرنګوالی او ټاکنه(OP4.01)، بياځای په ځای کيدنه (OP/BP 4.12) او لرغوني زيرمې (OP/BP 4.11). اصلي ځايي وګړي ( OP 4.10) په پورتنيو کټګوريو کې نه دي، ځکه چې په افغانستان کې هيڅ يو ګروپ د اصلي ځايي وګړو په بڼه ندي پيژندل شوي. د NRAP پروګرام يوه ملي طرحه ده چې موخه يې د مذهبي او نژادي ګروپونو په پوښښ کې نيولو سره د سيمه ايزو مساواتو ساتل دي. په دې پروژه کې به د کار موندني فرصتونه د مساواتو، مسلکي وړتيا ، پرته د جنسي ، مذهبي ، نژادي او ګروپي تړاو په پام کې نيولو سره و ټولو ته برابر او د لاس رسی وړ وي. په ټولو هغه پروژو کې چې د ځايي وګړو او ګټه وړونکو سره د مشورې او خبرو اړتيا وي، دا مشورې او خبرې بايد پرته له جنسي توپيره په لاره واچول شي ترڅو د نارينه و د نظرونو د معلومولو ترڅنګ د ښځو نظرونه هم ترلاسه شي. د ټولو درې واړو پاليسيو لپاره د پروژې ديزاين، هغه معيارونه چې " د افغانستان د پروګرام لپاره د ساتني پاليسيو د لارښووني بيا کتل شوي او نوټ کې هم ويل شوي دي" اطاعت کوي. د دې لپاره چې د فرعي پروژو فردي پانګې اچوني بڼه پرمختللي نه ده ، خو د افغانستان دولت به د يو پروګراميک تګ لارې او مشخصاتو سره دا ومني.

**لمړی جدول : د نړیوال بانک د پلي کولو او پلي کولو وړ ساتني پالیسي**

| شمیره | د نړیوال بانک ساتني پالیسي | په دې سببونو د پلي کولو وړ: | هغه ټکي چې د ټولنیز او چاپیریال منجمنت په جوړښت (ESMF) کې ورځني یادونه شوې ده |
|---|---|---|---|
| 1 | **چاپیریال ټاکنه او څرنګوالی OP 4.01** | ▪ د کلي د سړک پروژې کیدای شي چې پر ټولنېزو او چاپیریال توکیوو اغیزه وکړي، لکه پر هغه ساختمانونو چې له اوبو سره تماس لري، په غرنیو سمیو کې د میلان شتون او د سړک پر غاړه ونې. | ▪ د چاپیریال خونديي توب چارې سرته رسونه، د چاپیریال منجمنت پلان (EMP)<br>▪ د ټولنیز ګډون جوړښت (SIF) ترڅو ټولنیزې او چاپیریال لانجې او موضوع ګانې په نښه کړي. |
| 2 | جبري بیاځای په ځای کیدنهOP 4.12 | پروژه پر شتمنیو او معشیت باندې اغیزه لري. پروژه د ټولنې پر نژادي او مذهبي وګړیو باندې اغیزه لري. | د ټولنیز ګډون د جوړښت (SIF) برابرول، ترڅو ټولنیزې اغیزې د ټولنې د ګډون د کچې د لوړولو له لارې په نښه اود امکا ناتو برابرول، ترڅو ورانتوب لږ شي. |
| 3 | مذهبي/نژادي ګروپونه او په ملي کچه د لږکیو جوړونکي ګروپونه | ▪ پروژه د ټولنې پر نژادي ، مذهبي او لږکیو وګړیو باندې اغیزه لري. | د دې ډاډ ورکول چې په ټولو پروژو کې ټول مذهبي/ نژادي ګروپونه په مساویانه او عادلانه ټوکه شامل دي او همدا راز هغه ګروپونه چې په ملي کچه لږکي جوړوي ګډون ولري. |
| 4 | (ژوواوبوټو)اصلي اوطبیعي ځایونه OP4.04 | پروژه متضمنه ده چې یواځې د لږ شمیر سړک مسیرونو به د هغه ساختمانونو له لارې چې د اوبو سره تماس لري، تیریږي. | د چاپیریال منجمنت د پلان (EMP) جوړونه او پلي کول |
| 5 | لرغوني شتمني OP4.11 | په دې پروژه کې و لرغوني شتمنیو ته خطر او زیانمن کیدو اود تاریخي شتمنیو د پیداکیدولو احتمال شته دی. | د لرغوني شتمنیو د ساتنې او خوندیتوب لپاره ورته تګ لار( د افغانستان د لرغوني او تاریخي میراثونو د ساتنې قانون" ۲۰۰۴م کال" ) تر عنوان لاندې جوړه شوې ده. |

14. د ماین د خطر اداره کول: د ماین له خطره د مناسب منجمنت څخه پرته ، فرعي پروژې به نه شي پلي کولای. د ماین له خطره د اداره کولو چارې (چې په ساحه کې د پلي کولو پر محال په تدریجي توګه پرمختګ کوي)، په قوت سره پلي شوي دي. د افغانستان دولت د ماین د خطر د کنترول او اداره کولو پروسه په هغو پروژو کې چې د نړیوال بانک لخوا مرسته شوې دي د منلو لپاره د نومړی بانک د ساتني پالیسیو څانګې ته استول شوي دي. کله چې د نړیوال بانک لخوا ومنل شي او د افغانستان د دولت لخوا لاس لیک شي، د پروژې د ساتني جوړښت یوه برخه به وګرځي. د ټول خطر معلومول او د ماین د پاک کولو چارې باید د افغانستان لپاره د ماین سره د ملي مبارزې د مرکز په انسجام سره ترسره شي. دا پروسه ممکنه ده چې په راتلونکي کې د پرمخ تلونکو شرایطو له مخې اصلاح شي.

## IV. د ټولنيز او چاپيريال منجمنت چوکاټ (ESMF)

**15. د ټولنيز او چاپيريال ساتني او حفاظت اقدامونه**

د خونديتوب د ارزوني او د قانون د تګلارو څخه د اطاعت پر بنسټ، د چاپيريال او ټولني د بيلابيلو موضوع ګانو سره د معاملي کولو امکانات ټاکل شوي دي. د امکاناتو تحليل د اقدامونو د پيژندلو سبب ګرځي او په پايله کي د چاپيريال او ټولني د موضوع ګانو سره د معاملي کولو توان پيدا کوي. د ذينفع اړخونو د مشورو په ترڅ کي اقدامونه و وروستني پړاو ته رسيدلي دي، څرنګه چي د ذينفع اړخونواو د پلی کولواستازو په ګډون ، دې لين ايجنسی ګانو او د چاپيريال ساتني د ملي استازی (INPUT) د اقدامونو ښه پای ته رسيدنه برابروي. په دې سند کي شرط شوي اقدامونه د دواړو وزارتونو، د فوايد عامي او د کليو د پراختيا او بيارغوني د وزارت لخواه ترسره او پلي کيږي.

**16. د فرعي پروژو ټاکل:**

د ټولنيزو/ چاپيريال موضوع ګانو په اړوند د حساسو فرعي پروژو لپاره د پيژندلو او ارزوني مرحلي سر ته رسيدلي دي. د پيژندلو چاري به يې د PIU او د سنبالوني او تياری لخوا پر مخ بيولای شي. د پيژندلو د عمل څخه به د يوې وسيلې په توګه کار واخستل شي ترڅو د چاپيريال او ټولنيز مسايلو د اغيزو زور اوشدت وپيژندل شي. او په دې توګه د هغوی د خونديتوب اقدامونه د پروژې د برابروني په سمون سره يوځای شي.

17. د پيژندلو د پروسي ځانګړيتوبونه په لاند ې ټکيو دي.
چاپيريال فکټورونه لکه:

- حساسه ساحې، د ژوواوبوټواصلی اوطبيعي ځای ، او نور حساسه اعلان شوي ځايونه
- د ونو پرې کول
- د بوټو او واښو څخه د ساحې پاکول
- د اوبو د دايمي لښتيو او يا د هغو سطحي ساختمانونو د منځ څخه غوځول چي د اوبو سره په تماس کې دي
- د طبيعي پيښو په وړاندې زيانمن کيدل، د ځمکي ښويدنه او د خاورې توړنه او احتکال
- د چاپيريال بيلوونکی نښي لکه لنده ځمکه، د ځمکي لاندې د اوبو ساتل شوې ساحه او داسي نور

ټولنيز فکټورونه لکه:

- د ځمکي موجوديت او شته والی
- د ساختمانونو د لاسه ورکول
- د معيشت د لاسه ورکول
- د عامه شتمنيو پر سرچينو باندې اغيزې

18. د څرنګوالي پروسه بايد د لانديني ټکيو په هکله معلومات برابر کړي.

- د فرعي پروژو کټګوری او په پروژه کې ګډون
- د فرعي پروژو کټګوری کومې چي د ايستني (exclusion) د معيارونو په واسطه د حساسو ساحو څخه دباندی ايستل شوې دي.

19. د آزموينې او چاپيريال ته د خونديتوب په وړاندې مسؤليتونه:

د وړانديز شوې پروژې لپاره به د کليو د پراختيا او بيارغوني وزارت او د فوايد عامي وزارت د پلي کولو ځانګو په توګه عمل وکړي. هر يو وزارت په خپلو فرعي پروژو کې مسؤليت لري چې د آزموينې او چاپيريال ته د

خونديتوب ضروري او لازمي شرايط په کار واچوي. د هر يو وزرات په دننه کي به د ساتني پاليسيو بنسټيز محور په ګوته شي چې دا به د ټولنيز او چاپيريال ساتني جوړښت د پلي کولو او څارلو دنده په غاړه ولري. د انسجام ملي څانګه(NCU) چې د دې پروژې تر پوښښ لاندې حمايه کيږي، دNCU د نظر لاندې جوړښت به د دريم لوري په واسطه د پلي کولو او د څارني داړ وركړي.

**چاپيريال:**

### 20. د لږ اغيزې لرونکي پروژې (L)

د چاپيريال اغيزې به داسې وي چې په عادي توګه به د کليوالي سړکونو د بيارغوني او جوړوني سره تړلي وي. کوم ځاى کي چې د لږ غوندې اغېزې تمه وي، کولاى شو چې د دي اغيزو کچه د هغو معياري اقدامونو له لارې چې چاپيريال ته خونديتوب (EMM) وړانديز شوي دي، لږ او يا راټيټه کړي.

### 21. د منځني حد اغيزې لرونکي پروژې (M)

هغه ځاى کي چې د اغيزو کچه زياته وي، او د (L) د کټګورۍ په نسبت ستونزمن وي، دا ډول پروژې ځانګړي اقدامونو او مينځګړ توب ته اړتيا لري، لکه نوې ساختماني پروژې، د هغو سيمو په دننه او يا څنګ سره پروژې چې د NEPA د اداري لخوا د حساسو سيمو او ساحو په توګه پيژندل شوې وي او يا دا چې ځانګړی حساسه چاپيريال بنه ولري لکه د هغو ساختمانونو د منځ څخه تيريدنه چې د اوبو سره تماس لري، د هغو سميو څخه تيريدنه چې د سيلاب د خطر لاندې وي او داسې نور. دا ډول لانجې زيات تحليل او د چاپيريال د منجمنت ځانګړي ساحوي پلانونو ته اړتيا لري. په داسې حالاتو کي د چاپيريال د منجمنت پلان (EMP) بايد د پروژې د سند (Project Document) په توګه تيار شي. لاندني ټکي به د فرعي پروژو د منځني حد اغيزه د پيدا کونکو په توګه په پام کي ونيول شي، چې په پايلو کي د چاپيريال د منجمنت پلان (EMP) برابرول ته اړتيا شته.

a- د ژوواوبوټو داصلي اوطبيعي ځاى باندې اغيزې

b- د طبيعي پيېنو او ځمکي ښويدني په وړاندې د زيان منل

c- د هغو سيمو په دننه او يا څنګ سره (د ٥٠٠ مترو په شاوخوا کي) پروژې چې د NEPA د اداري لخوا د حساسو سيمو او ساحو په توګه اعلان شوې وي او يا هغه سميې چې د ESMF لپاره د نه نغښتيا په لست کي په تفصيل سره يادونه شوې وي.

d- په هغو سيمو کي چې پروژې د سيلابونو له خطر سره مخاخ وي.

22. د PIU څانګه به د هر يوې پروژې لپاره د چاپيريال د منجمنت د پلان ( EMP) د برابرولو سربيره ، د ځانګري سړکونو د چاپيريال ښه کول د NEPA د اداري له اوسني قوانينو سره سم پرمخ بيا يې.

**ټولنيز:**

### 23. د لږ اغيزې لرونکي پروژې (L)

- **علتونه:** د ځمکي د پلنوالى لپاره مخ په زياتيدونکي اړتيا د پام وړ نده او ياهم هيڅ اغيزه پر ساختمانونو يا د معيشت د لاسه ورکولو کي نلري.
- هره اضافي ځمکه چې په دې ډول فرعي پروژو کي د وړانديز شويو ښه والى او سمونوالى لپاره اخيستل شوې وي د ټولنيز پلان جوړوني له لارې به په پام کي ونيول شي او په دې توګه د ځمکي د انتقال او مسير د ټاکلو يوه روښانه پروسه ممکنه کړي، څرنګه چې د ټولنيز ګډون په جوړښت(SIF) کي بيان شوي دي. په دې موضوع کي به کليوالي شورا چې د دولت له غړيو څخه شميرل کيږي ګډون ولري، څرنګه چې د ځمکو په اړوند کتني،خوندی توب اود سرک د پروژې د مسير په اوړدو کي د راتلونکي پرمختيا په پام کي نيولو سره د ځمکي غوښتي ته پاى او د (سړک) مسير وټاکى.

## 24. د منځني حد اغيزې لرونکي پروژې(M)

- **علتونه:** د فرعي پروژو په اړوند، کوم ځای کې چې د عامه ځمکو/ شتمنيو او ملکيتونوته د مناسب او معقول له لاسه ورکولو اټکل وشي.
- د دې ډول پروژو لپاره، د پروژې د سنبالوني د چارو د پيل څخه مخ کې ، د PIU څانګه به د ټولنېز ګډون له لارې د R&R پلان جوړاو د ځمکې د انتقال مرحله به برابره کړي چې بايد د زيانمن شويو وګړيو د قناعت وړ وي.
- که چيرې د پروژې لپاره د R&R پلان او د ځمکې د انتقال په مرحله کې ځرګنده شي چې خلک ناراضه دي. په دې ډول حالاتو کې به د PIU څانګه د ټولنې د پلان جوړونې له لارې کار په نورو ورته مسيرونو کې پرمخ بوزي، او همداراز د ډيزاين د بدلون په هکله چې ټولنيزو ستونزو ته ځواب ووايي، او همدا ډول نور اړخونه لکه دسړک خوندی توب او د راتلونکي پرمختيا په پام کې نيول هم په شمار کې راځي چې په دې اړه به کار ترسره شي.
- چيرته چې هيڅ ډول مقصد د بيا ځای په ځای کيدنې د اغيزو په ځواب کې د يو وړانديز شوي ميکانيزم له لارې په کې SIF وجود ونلري، داسې فرعي پروژې د لوړ حد اغيزې لرونکو پروژو په نامه ياديږي. او په دغه کال کې به تر لاس لاندې نه نيول کيږي او د ايستل شويو پروژو په لست کې به ځای په ځای شي.
- د دې راز سړکونو لپاره به د PIU څانګې پريکړه وکړي چې د ليک د لارې د خلکو شورا ته د وړانديز شوي سړک په اړوند معلومات وړاندې کړي چې کار پرمخ ولاړ نشي او په دې هکله هيڅ نورې څيړنې ترسره نشي. دا ډول سړکونه د پروژې راتلونکي دورې ته انتقاليږي. هغه هم يواځې پس له دې حالته چې دا موضوع ګانې د ټولنې/ شورا لخوا حل شوې وي او يو رسمي غوښتنه د پروژې لپاره د PIU څانګې ته چې دNERAP د لاربښوونو سره سمون ولري. نو په دې صورت کې به دا ډول سړکونه د پروژې راتلونکې دورې ته انتقاليږي.

## 25. د فرعي پروژو ايستنه (E)

د ايستنې په معيارونو کار شوې دی، تر څو هغه چارې چې د ژور ټولنيز/ چاپيريال اغيزو سبب ګرځي، وپيژني او په دې توګه د NERAP د پروژې لپاره په نظر کې ونه نيول شي، داسې فرعي پروژې بايد د لاندينيو ټکيو درلودونکې وي:

- هغه پروژې چې د پام وړ بدلون رامنځ ته کوي او يا د ژوواوبوټواصلی اوطبيعي ځای ته زيان رسوي، په لاندنيو سميو په ګډون هر ډول چارې، خو په دوی پورې محدود شوې نده :

  - ولاړې اوبه، جومات او مقدسه ځايونه/ د داوبو د مرغانو پټن ځايونه.
  - د اجر دره/ د وحشي ژوود ساتنې لپاره منل شوې سيمه
  - لوی پامير، د وحشي ژوود ساتنې لپاره منل شوې سيمه
  - د امير د بند ملي پارک
  - د حشمت خان قول/ د وحشي ژوود ساتنې لپاره وړانديز شوې سيمه

- د ټاکلی ساتل شوو سيمو څخه د سړک تيردنه، لکه: ساتل شوي او سپمول شوي ځنګلونه
- پروژه چې د پام وړ زيان لرغوني شتمنی ته اړوي چې دا شتمنی بيا خپلې اصلي څيرې ته نه راځي ، په ګډون د هر ډول چارو چې دغو سيموته زيان رسوي خو په دوی پورې محدود شوې نده :

  - د هرات ښلي ( په ګډون د جامع جومات، د کلالي صنعت کارځای، د موسی الله انګړ، پنځم منار، د ګوهرشاد بيګم مقبره، د علی شير نوائی مقبره او د شاه زاهد د مقبرې انګړ
  - د باميانو مجسمي ( په ګډون د فولادي ککرک، د غلغلي ښار او د ضحاک ښار)
  - د آی خانم لرغوني سميه
  - د غزنی سميه او مقبرې
  - د جام منار

- د حاجی پیاده جومات/ د بلخ ولایت ګنبد
- د ګلدرې ګنبد او خانقاه
- د لشکرګاه قلعه یادګار او سیمه – د بست تاریخي سیمه/ بازار
- د سرخ کوتل لرغوني سیمه

- پروژه په بیړنی توګه د ۲۰۰ څخه زیاتو وګړو ته د ځمکي لاس ته راوړلو او یا بیا ځای په ځای کیدلو او یا د تاوان ورکولو لپاره اړتیا لري.
- د ( کلی/ولسوالی/ ولایت ـ ولایته سړکونو) سربیره د سړکونو ډولونه:

## 26. چاپیریال خوندیتوب اقدامونه(EMMs)

د چاپیریال دهوسایني د اقدامونو لنډیز په لاندې جدول کې موجود دي. او دا لاربنونه به وکړای شي، چې د پروژې د انجنیرانو لخوا د پلی کولوڅانګې (PIU)، قراردادیانواو د پروژې د اړوند نورو ډلو په مرسته پلی او تطبیق شي، ترڅو د امکان تر حده د فرعي پروژوکبله پرچاپیریال اغیزې کمي او مخ نیوی یې وشي.

**دویم جدول: چاپیریال خوندیتوب اقداموند (EMMs) او د دوی پوښښ**

| د اغیزو پیدا کوونکي چارې | مهم ټکي چې په ګوته شوي دي |
|---|---|
| د پروژې برابرونه ( پلان جوړونه او ډیزاین) | ▪ د پروژو په برابرونه کې د چاپیریال اندیښني په پام کې نیونه، ترڅو د ساختماني چارو او عملیاتو په ترڅ کې د اغیزو مخ نیوی وشي.<br>▪ د حساسو سیمو په منځ کې د سړکونو د جوړوني څخه ډډه کول( د استثنا لست) لکه ساتل شوي او خوندي ځنګلونه، مقدس ځایونه، لندې ځمکي او داسې نور<br>▪ د حقوقي او قانوني شرطونو سره سمون |
| د ساحې او سیمې برابرونه | ▪ د آسانتیاوو، عامه شتمنیو د زیرمو او لرغوني شتمنیو و نوي ځای ته لیږدونه<br>▪ د سړک د غاړې په بوټو د اغیزو مخ نیوی |
| ساختماني کمپونه | ▪ د حساسو سیمو په منځ کې د ساختماني کمپونو د جوړوني څخه ډډه کول<br>▪ د کارکوونکو او ساختماني وسایلو لپاره اساسي تیاری |
| د بارو سیمې ( هغه سیمې چې د هغو څخه ساختماني مواد ترلاسه کیږي) | ▪ د رزاعتي ځمکو څخه د بارو د سیمو په حیث د استفادې کولو څخه ډډه کول<br>▪ بارو سیمو ته بیا وده ورکول |
| د پورتنی سطحې خاورې ساتنه، خوندي کول او بیا ځای په ځای کول | ▪ د هغو سیمو چې د موقتي/ دایمي مودې لپاره د ساختماني چارو لپاره کارول کیږی او د پورتنی سطحې خاورې لیرې کول<br>▪ د پورتنی سطحې خاورې بیا کارول په زراعتي او هغه ځمکو کې چې بیا شنې کیږي. |
| د ساختماني موادو د زیرمو منجمنت | په هغه صورت کې د ساختماني موادو زیرمو بیا وده ورکول چې همدا د نویو ساختماني موادو زیرمې د پروژې لپاره تیارې وي. |
| د ساختماني چارو لپاره اوبه | ▪ په هغو سیمو کې چې د اوبو له کمښت سره مخامخ دي، د اولس د خوښې سره سم د اوبو ایستنه<br>▪ د اوبو د شتون او لاس ته رسیدنې په پام کې نیولو سره د ساختماني چارو د محال ویش جوړونه |
| د توږنې او احتکال مخ نیوی او د میلان ثبات | ▪ په غرنیو سړکونو کې د میلان د ثبات ساتل<br>▪ د غونډۍ خوا ته د ځمکې ساتنه د غوڅولو(cutting) له امله<br>▪ د درې خوا ته د ځمکو ساتنه د ساختماني پاتې شونو څخه |

| | |
|---|---|
| | ■ د توړني د مخ نيوی لپاره د دريناج (زيم ايستنه) |
| د فضله موادو منجمنت | ■ د پرې شويو موادو( cut material) څخه د غرنيو سيمو په سړکونو کې بيا ګټه اخيستنه<br>■ د فضله موادو خوندی له منځه وړنه |
| هغه ساختمانونه چې په مستقيمه توګه د اوبو سره په تماس کې دي. (water bodies) | ■ د سړک د مسير (alignment) له امله د غوڅولو او پرې کولو(cutting) څخه ډډه کول<br>■ په هغه صورت کې چې د سړک مسير(alignment) د سړک د پښتې په سر وي، د سړک د پښتې (embankment) د ميلان ساتنه<br>■ د هغو ساختمانونو بيا رغونه چې د اوبو سره په تماس کې دي |
| دريناج ( زيم ايستنه) | ■ د پروژې د برابرونې په محال د هايدرولوجيکي څېړنو ترسره کول<br>■ د اړتياوو سره سم د طولي او عرضي دريناج برابرول<br>د دريناج د خولې (outfall) د ځای مناسبه په نښه کول |
| ساختماني ماشينونه او د وسايلو منجمنټ | د ناولتيا د مخ نيوې په خاطر د ماشينونو او وسايلو ساتنه |
| د کارکوونکو او د عامو وګړيو روغتيا او خوندي توب | ■ د کارکوونکو برابرول<br>■ د کارکوونکو لپاره ساتني وسايل<br>■ د کارکوونکو لپاره د لمړنيو اړتياوو برابرول<br>■ د ساختماني کار ساحې ته د سفرکولو په وخت کې د خلکو د روغتيا په پام کې نيول<br>■ د سړک پرسر د ساختماني چارو اوعملياتو په وخت کې د خلکو روغتيا په پام کې نيول |
| لرغوني شتمني | ■ د پروژې د اغيزو مخ نيوی<br>■ د ساختماني کار د اغيزو څخه د سرحدونو ساتنه<br>■ د ځای بدلول، په هغه صورت کې چې د اغيزو مخ نيوی شونی نه سوي. |
| د ونو لګونه | ■ پر ونو باندې د اغيزو مخ نيوی<br>■ د پروژې د چارواکو لخوا به د هرې پرې شوې ونې په بدل کې دوې ځائي ډوله ونې ايښودل کيږي.<br>■ د سړک پر غاړه د ونو ايښودلو لپاره هڅول |
| ژوواوبوتواصلی اوطبيعي ځای | ■ د ژوواوبوتو د اصلی اوطبيعي ځای څرنګواليول<br>■ د هغو سړکونو لپاره منجمنتي اقدامونه چې د ژوواوبوتو د اصلی اوطبيعي ځای څخه تيريږي<br>■ د منجمنټ د پلان جوړښت |

**27. د ټولنيز ګډون جوړښت (SIF):**

د ټولنيز ګډون جوړښت د NERAP پروژې لپاره د بيا ځای په ځای کيدني ګډون اود جوړښت سپارښتنه کوي.

**28. د بيا ځای په ځای کيدني جوړښت**

د بيا ځای په ځای کيدني جوړښت، پرنسيپونه اواصول په ګوته کوي ترڅو د پروژې له کبله د اغيزو په کمولو کې هغه وڅيړل شي. د PIU ساحوي څانګه به د کليوالي ځايي شورا/ د ټولني د ودې جرګې او د اړوندو فرعي پروژو د انجنير په مرسته د پلان جوړوني او بيا ځای په ځای کيدني د جوړښت د پلي کولو په وړاندې به مسؤل وي، چې ټولنيزې ستونزې په نښه کړي.

مهم او بنسټيز ټکی بايد دا وي ترڅو ډاډ ورکړل شي چې د پروژې له کبله اغيزمن شوي خلک کومه اساسي بده اغيزه د پروژې د پايلو له امله په خپلو معيشتونو کې نه ګالي، پرته له دې چې دوی ته تاوان ورکړل شي. دا کار بايد په داسې توګه ترسره شي چې دوی ته د منلو وړ وي. د ځمکو د لاس ته راوړني ټولې قضې په هره کورنۍ کې د مشخصې ځمکې د لاس ته راوړلو د اغيزو څرنګوالي ته اړتياولري، او لاربنود پرنسيپونه بايد داسې وي

چي د پروژې له کبله د اغيزمن شوو خلکو څخه د هيڅ يوه وضعيت د پروژې د پلي کولو څخه ورسته لا خراب نشي. په پروژه کي به ټولنيزو موضوع ګانو ته په شمول د ځمکي د لاس ته راوړلو مسلي ته به د ټولني د اوسني عنعنوي کتنو له لارې لاربښونه وشي. د افغانستان ټولني په عنعنوي توګه سره تړلي او نژدې ژوند کوي او د ولس اود ټولني د مشرانو پريکړې د وروستنى فيصلي په توګه پلي کوي. د بيا ځاى په ځاى کيدني مسله بايد د PIU د څانګي لخوا د پروژې د انجنير او SIO (Social Inclusion Officer) د ساحوي څانګي ، شورا او د ټولني د ودې جرګې د استازو په خوښه حل شي. ډيره مهمه موضوع به د دې اقدامونو سند اخيستل وي ترڅو په راتلونکي کي د هر ډول مفاهمي او ارتباط د خلأ او درزمخه ونيول شي. د بيا ځاى په ځاى کيدني پلان جوړونه د لاندنيو اصلي او فرعي دندو په ګډون دي:

__لمړۍ دنده:__

- **د سړکونو ټاکل**

د جوړوني / بيا رغوني او پراخولو لپاره

- **د پروژې په هکله د معلوماتو خپرول**

د سړکونو د ټاکلو څخه ورسته او د سړک د مسير د وروستني کولو څخه مخکي د سروې او د سړک د مسيرټاکل د لمړنى کتني له لارې

- **د سړک د مسير وروستني کول**

د سروې اود سړک د مسيرټاکل د لمړنى کتني د مشورو پر محال، د ټولني د پلان جوړوني له لارې، د ځايي ټولنو او ولايتي شعباتو او څانګو ته په برخه ورکولو سره، د سړک د مسير ټاکل

- **د اغيزمنو خلکو سره خبرې او مشورې**

د پروژې په ډيزاين کي د خلکو د اندېښنو نغښتيا او يا نه نغښتيا د پوهيدلو لپاره د د اړيکو ټينګول، د سړک د مسير د لمړنى سروې د پايلو د بيانولو له لارې

- **د پروژې په سند کي د R&R د مسائلو يوځاى کول**

په دې هکله ډاډ ورکول چي د NERAP پروګرام د سړکونود ډيزاين اود ټولنيزو مسائلو په وړاندې حساس دى او ټولنيزې انديښنې يې هم نغښتلي دي.

__دويمه دنده:__

- **د ځمکي دلاس ته راوړني د مرحلو بيانول او د حقوقو ورکولو تګلاره**

د پروژې له کبله د اغيزمنوګړيو ته د معلوماتو وړاندې کول

- **د مخکي له مخې د خبرتيا وړاندې کول**

[ په زراعتي ځمکو کې] د اوسني شتمنيو او حاصلاتو د ليرې کولو او د واکمنى د له منځ وړلو لپاره

- **د وزارت او ځمکو د مالک / مالکينو تر منځ د تړوون د خبروني منځ ته راتلل**

دا موضوع دPIU د ساحوي څانګي لخوا په لاره اچول کيږي، چي دا اداره به يوه کاپي د ولايت والي ته او يوه کاپي د PIU مرکزي دفتر کابل ته واستوي. دا کار به وزارت ته د بښل شوې او يا د معينه بيې په بدل کي د منتقل شوې ځمکي د سند ثبتول يقيني کړي. په کومو پروژو کي چي اغيزمن شوي خلک په فردي توګه د ځمکي/ شتمنيو د ويجاړتوب کچي د پام وړنه وي، په ډله ايزه توګه د تړوون خبرونه د وزارت او د خاصي شورا/ د ټولني د ودې جرګې ترمنځ لاس ليک کيداى شي. په دې صورت کي بايد د ټولو هغو کسانو نومونه او لاس ليک د تړوون په خبرونه کي شامل وي چي خپلي ځمکي/ شتمنى يې په خپله خوښه وزارت ته بښلي دي.

- د معلوماتو بیانول او د ساختماني چارو څخه مخکي خبرې او مشورې

د خلکو/ قراردادیانو استازي باید د سمبالوني د کار څخه مخکي د ساختماني چاروپر محال د لندمحاله اغیزو د جزیاتو په هکله معلومات وړاندي کړي، لکه د موجوده لارو پرې کیدل، د هوا د ککړتیا زیاتیدل، د ماشینونو د حرکت له امله نږدې ځمکو ته اټکل شوي زیان رسیدنه او د پروژې د پای ته رسیدلو نیټه، ترڅو خلک په سمه توګه د پروژې له مسلو څخه باخبره شي. ښائي چي د ټولني د ښځو سره هم د ورته ځانګړې مشورو تیاری وشي.

**29. اغیزې او امتیازونه/حقوق**

د بیا ځای په ځای کیدني جوړښت د پروژې د بیلابیلو ټولنیزو اغیزو د په نښه کولو لپاره جوړ شوی دی، چي لنډیز ئـی په لاندې جدول کې وړاندې کیږي.

**دریم جدول: اغیزې او وړاندیز شوي اقداموانه**

| د اغیزو کټګوري | وړاندیز شوي اقدامونه |
|---|---|
| **د لقب درلودنکي** | |
| ځمکه | ▪ وزارت ته په خپله خوښه د ځمکي نقلول د تړوون د خبروني له لارې او یا<br>▪ د ټولني لخوا مرسته او کمک; د هغو کسانو سره مرسته چي د پروژې له امله اغیزمن کیږي د ټولني د ودي جرګـې / شورا لخوا په دې ډول (i) د بدیلو ځمکو برابرول (ii) د وزارت لخوا د پیسو تاوان ورکول |
| ساختمانونه | ▪ وزارت ته په خپله خوښه د شتمنیو نقلول د تړوون د خبروني له لارې او یا<br>▪ د ټولني د ودي جرګـې / شورا لخوا د پیسو مرسته او یا د وزارت لخوا د پیسو تاوان ورکول |
| د عامه شتمنیو زیرمې | ▪ د ټولني د ودي جرګـې / شورا لخوا د PIU د څانګي په تخنیکي همکارئ او په نوي ځای کي ځای په ځای کول<br>▪ د ټولني د ودي جرګـې / شورا لخوا د PIU د څانګي په تخنیکي همکارئ د شتمنیو بیاجوړونه |
| **عرفي حقوقو لرونکي/ په غیر رسمي توګه د ( مسائلو ) حلول** | |
| **ځمکه** | ▪ د ټولني د ودي جرګـې / شورا لخوا د ډیرو رایو په بنسټ د ځمکي د مالکیت د ادعا تصدیقول<br>▪ وزارت ته په خپله خوښه د ځمکي نقلول د تړوون د خبروني له لارې او یا<br>▪ د ټولني لخوا مرسته او کمک; د هغو کسانو سره مرسته چي د پروژې له امله اغیزمن کیږي د ټولني د ودي جرګـې / شورا لخوا په دې ډول (i) د بدیلو ځمکو برابرول (ii) د وزارت لخوا د پیسو تاوان ورکول |
| ساختمانونه | ▪ وزارت ته په خپله خوښه د شتمنیو نقلول د تړوون د خبروني له لارې او یا<br>▪ د ټولني د ودي جرګـې / شورا لخوا د پیسو مرسته او یا د وزارت لخوا د پیسو تاوان ورکول |
| **مخکي له مخه د خبرتیا وړاندې کول** | |
| • [ په زراعتي ځمکو کې ] د اوسني شتمنیو او حاصلاتو د لیرې کولو او د ورستیو خندونو د لیرې کولو لپاره مخکي له مخه د خبروني وړاندې کول<br>• د ټولني د ودي جرګـې / شورا اود ټولني په ګډون د ځمکي په پاک کولو او حساسه کولو کي | |

## 30. څارنه او د ټولنیز ګډون دحسابونو تصفیه کول

د ټولنیز ګډون څانګه ( د ټولنیز ګډون د څانګې چارواکي)، د ساحوي څارنې مسؤل دي او اړونده شورا/ د ټولنې د ودې جرګې د بیا ځای په ځای کیدنې او بیارغونې او د پرمختګ د پلې کولواو د څارنې لپاره مسؤل دي. د نړیوال بانک د امنیتي چارو متخصص به د دریمي برخې د حسابونو تصفیه کول په غاړه واخلي ترڅو د هغې پروسې د پاکوالی تصدیق وشي چې دې SIF د مقرارتو سره سم د پرمختګ په حال کې ده. د PIU په اړوندو ساحوي څانګو کې د ټولنیز ګډون د څانګې/ څارنې د څانګې ساحوي چارواکي به د پلې کولوپروسه مستنده کړي اود یوې میاشتې په اوږدو کې به یې د PIU مرکزي دفتر (کابل) ته راولیږي. د PIU مرکزي دفتر په کابل کې به نوموړې د پرمختګ راپور مستند کړي او همدا راپور به د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت او د فواید عامې وزارت ته واستوي.

## 31. د خپګان د اصلاح کولو تلن لاره

د خپګانونو د اوریدلو لپاره به یوه کلیوالي کمیټه جوړه شي ترڅو ستونزې په کې حل شي او نوموړې کمیټه به د ټولنې د مشرانو په مشوره جوړیږي. دا کمیټه چې د ساحوي SIO لخوا پر مخ بیول ګیږي اوSIF به د مشورې د پلې کیدولپاره به په میاشت کې یو ځل مجلس کوي او د ساختماني چارود پیل څخه ورسته به بیا په هرو دریو میاشتو کې یو ځل د ساختماني چارو تر پایه د خپګانونو د لیرې کولولپاره مجلس جوړوي. د ټولنې د ودې جرګه / شورا غړې حق نلري چې د خپګان د اصلاح په کمیټه کې شامل شي.
ټولې پریکړې به په کمیټه کې د رایو په اکثریت سره وشي. پاتې شوې ګیلې به د خپګانونو د اصلاح کولو د ولایتي کمیټې لخوا حل شي، چې په هغه کمیټې کې به د ولایت والي، د اړوندې شورا مشر او ساحوي SIO ګډون ولري. د اغیزمن شویو وګړیو استازو ته بلنه ورکړل کیږي چې د نوموړې کمیټې د پریکړو په وخت کې به حاضر وي.

## 32. د ظرفیتونو لوړول او د ساتنې جوړښت د پلي کولو څارنه

د ساتنې پالیسیو مرکزي او مهم ټکي به د ظرفیتونو د لوړولو د برخې په توګه د وړاندیز شوې پروژې د پلي کولو لپاره تیار شي، او همدا شان د اړوندو وزارتونو مربوطه کارکونکي به د ساتنې جوړښت د کاراچونې لپاره زده کړه ترلاسه کړي او په خاصه توګه د فرعي پروژوته د ودې او پلي کولو په وخت کې. د افغانستان دولت به په منظم ډول د چاپیریال اود ټولنیزو چارو له متخصص سره قرارداد وکړي چې د پروژې د عمومي پلي کولو د مشورتي ټیم د غړي په توګه به کار کوي، ترڅو د ظرفیتونو د کچې په لوړوالي کې مرسته وشي، راتلونکي لاربښونې برابرې شي او د جوړښت ګټه اخیستنه وڅېړل شي. نړیوال بانک به د دې عملیاتو څخه د څارنې په وخت کې د نوموړې جوړښت پلې کول په نښه او وټاکي، او که څه اړتیا وه، د نورې پیاوړتیا سپارښتنه به وشي.

## 33. د پروژې په هکله خبرې او مشورې

داسې پلان جوړ شوی چې د ټولنیز او چاپیریال ساتنې جوړښت به د غیردولتې ارګانونو اوهغه بسپنه ورکونکو سره چې د افغانستان د بیارغونې په چارو کې برخه اخیستې خبرې او مشورې خپروي. د پلان پربنسټ د افغانستان دولت دا کار د ارزونې څخه مخکې په دري او پښتو ژبو او همداشان په انګلیسي ژبه څرګند او بیان کړي. او همدا رنګه د نړیوال بانک په معلوماتي مرکز کې به هم ترلاسه کیږي. څرنګه چې هیڅ ډول بیل چاپیریال او ټولنیز څرنګوالی به د وړاندیز شوې پروژې تر عنوان لاندې تیار نشي، له دې کبله هیڅ ډول د څرګندولو اضافي اړتیاوې به په کار وانچول شي. که څه هم په دې هکله ، د یادولووړ ده چې د افغانستان دولت په نظر کې لري چې د پروژې ټول اسناد د افغان معلوماتي سیستم د ادارې( AIMS) له لارې په څرګند ډول لاس رسی ته کیږدي.

**لمړی فارمت**

**عامه خبرتیاوې**

**(د سړک د مسیر د کار د ختمولو څخه مخکې/ سروې او د سړک د مسیر لمړینی کتنه)**

ولایت: ---------------------

د پروژې لمبر: ---------------------

ولسوالۍ/ کلی: ---------------------

- دا پروژه څه شی ده او د دې وتلې صفات څه دي.
- ګټې
- کومې ادارې په دې کې ونډه لري.
- څه باید ترسره شي که چیرې د خلکو له پلوه خوابدي او کرکه پیدا شي.
- په خپله خوښه د ځمکې د بښلو له لارې، اضافی ځمکې ته اړتیا
- اټکل شوی اغیزې او حقوق ورکول
- د سروې او د سړک د مسیر د لمړینی کتنې نیټه
- د بښودل شوي مسیر د نقشې سره د (سړک) د مسیر تفصیل
- د اړیکو د ساتلو شخص او د هغه آدرس (PIU and PRI)

مسؤله اداره/ شخص: PIU (PE/RSIO)، شورا/ د ټولنې د ودې جرګه (مشر او نور غړي)

**دویم فارمت**
**د څرګندولو او بیانولو لپاره د سړک د مسیر تفصیلات**
**(د سړک د مسیر د کار د ختمولو څخه مخکې/ سروې او د سړک د مسیر لمړنی کتنه)**

ولایت: -----------------
د پروژې لمبر: -----------------
ولسوالی/ کلی: -----------------

**ولایت:** **ولسوالی:** **کلی:**

د ( سړک) د مسیر نوم

بشپړ اوږدوالی:

سره تړلې استوګن ځایونه

د پیل ټکی/ کیلومتره :
د پای ځای/ کیلومتره :

د ټولو ګټه اخیستونکو وګړیو شمیره:

**پلي کولو کونکي اداره:**

**د اړیکو د ساتلو شخص او د هغه آدرس:**

**د پروژې مسیر د شیماتیک یا جلاکېدونکي دیاګرام پرمخ د مرکزي کرښې او د چاپیریال او د ټولنیزو ځانګړتیاو سره په نښه شوي دی.**

| چاپیریال او د ټولنیزو ځانګړتیاوی | جلاکېدونکي دیاګرام |
|---|---|
| | |

**دریم فارمت**
**د افرادو لپاره د تړوون خبرونه**

دا لاندینی تړون نن د ---------- ورځ د --------------- نیټه د ------------------------ چې د ------------------ اوسېدونکی دی، د (ځمکي/ شتمنۍ) د څښتن په توګه او ------------------------ د (اخیستونکي په توګه) تر منځ جوړ شو.

1. دا چي نوموړی څښتن د -------------- جریبه ځمکي/ ساختمان/ شتمنۍ منقولي حق په ----------- کي لري.

2. دا چي نومړی څښتن دا تصدیق کوي چي ځمکه/ ساختمان د ځمکي لاندې کوونکو او یا تیري کوونکو څخه پاک دی او پر هغي باندې کومه بله دعوی نشته.

3. دا چي څښتن په دې ډول، دا شتمني د------------------ د جوړوني او وده لپاره د کلیوالي اوعامو وګړیو د ډیرې ګټي لپاره و اخیستونکي ته ښني.

{د ښنني په صورت کي، دواړه شمیرې په پام کي ونیول شي}
4. دا چي څښتن د دې ښنل شوې شتمنۍ په بدل کي به کومه غوښتنه ونکړي او حقوق ونه غواړي.

{او یا دا چي د غوښتي او حقوقو د ترلاسه کولو په صورت کي لاندنۍ شمیره په پام کي ونیسي}
4. دا چي څښتن د دې ښنل شوې شتمنۍ په بدل کي به د یوځای (ضمیمه) شوي جدول له مخې حقوق او تاوان ترلاسه کړي.

5. دا چې اخیستونکی د یاد شویو موخو لپاره د دې ښنل شوې شتمنۍ په اخیستنه راضي دی.

6. دا چي اخیستونکی باید ------------------------ جوړ او هغه ته وده ورکړي او ټول شوني احتیاطي اقدامونه به لاره واچوي ترڅو نږدې ځمکو/ ساختمانونو/ شتمنیو ته زیان ونه رسیږي.

7. دا چي دواړه لوري په دې سره تړوون وکړي چي ------------------ په همداسي ښه چي جوړ شي/ وده ئې کړي، باید د عامه شتمنیو څخه وشمیرل شي.

8. دا چي د دې تړون شرطونه او مادې د دې تړوون د خبروني د لاس لیک کولو د نیټي څخه ورسته د پلي کولو وړدي.

د (ځمکي/ ساختمان/ شتمنیۍ) د څښتن لاس لیک :

د کلیو د پراختیا او بیا رغوني د وزارت / د فواید عامي د وزارت چارواکي (اخیستونکي) لاس لیک:

شاهدان:
1---------------
2.--------------

(نوم، لاس لیک، آدرس)

**څلورم فارمت**

**د ټولنې د غړیو د ډلې لپاره د تړوون خبرونه**

دا لاندینی تړون نن د ---------- ورځ د --------------- نیټه د ---------------( کلي/ ولسوالی) د شورا/ د ټولنیز وده د مرکزونو له لارې د ټولنې د غړیو او ------------------------ د (اخیستونکي په توګه) تر منځ جوړ شو. د ټولنې د غړیو نوموونه په لاندې کرښو کې لست شوي دي.

1. دا چې څښتن په دې ډول، دا شتمني د--------------------- د جوړونې او وده لپاره د کلیوالي اوعامو وګړیو د ډیرې ګټې لپاره و اخیستونکي ته ښني.

2. دا چې څښتن د دې ښنل شوې شتمنی په بدل کې به کومه غوښتنه ونکړي او حقوق ونه غواړي.

3. دا چې اخیستونکی باید ------------------------ جوړ او هغه ته وده ورکړي او ټول شوني احتیاطي اقدامونه په لاره واچوي ترڅو نږدې ځمکو/ ساختمانونو/ شتمنیو ته زیان ونه رسیږي.

4. دا چې دواړه لوري په دې سره تړوون وکړي چې ------------------ په همداسې ښه چې جوړ شي/ وده ور کړي، باید د عامه شتمنیو څخه وشمیرل شي.

5. دا چې د دې تړون شرطونه او مادې د دې تړوون د خبرونې د لاس لیک کولو د نیټې څخه ورسته د پلې کولو وړدي.

**د ټولنې د غړیو چې په خپله خوښه یې خپله شتمني** ښني **په تفصیل سره معلومات:**

| شمیره : | د ټولنې د غړی نوم | د ځمکې/ شتمنی تفصیل | لاس لیک |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

د شورا د مشر لاس لیک

د کلیو د پراختیا او بیا رغونې د وزارت / د فواید عامې د وزارت چارواکي (اخیستونکي) لاس لیک:

شاهدان:

1----------------

2.---------------

(نوم، لاس لیک، آدرس)